# College Bound څه دی؟

**د لېسې دورې زده کوونکي:** College Bound د Washington College Grant په څېر د ایالتي مالي مرستې لومړنۍ ژمنه ده، چې د لېسې دورې څخه وروسته د زده کړې د لګښت په ورکولو کې له تاسو سره مرسته کوي. هغه مقدار پیسې چې زده کوونکي یې ترلاسه کوي د زده کړې د اوسط لګښت (د دولتي کالج په نرخ سره)، ځینو فیسونو او د کتابونو لپاره د کوچني مقدار پر اساس دي. تاسو کولی شئ چې له College Bound څخه په Washington کې په څه باندې 65 برخه اخیستونکو کالجونو، پوهنتونونو او تخنیکي ښوونځیو کې د خپلو زده کړو د لګښت ورکولو لپاره ګټه واخلئ.

## ژمنه څه ده؟

- که غواړئ له ښوونځي وروسته په مستقیم ډول په یوه څلور کلن کالج کې شامل شئ، د Washington له یو عالي ښوونځي یا د کورني ښوونځي له پروګرام څخه د 2.0 یا لوړې مجموعي GPA (Grade Point Average، د نمرو اوسط) په لرلو سره فارغ شئ.

> که غواړئ چې د ټولنې کالج یا تخنیکي لېسې ته ولاړ شئ، د عالي لېسې دورې د GPA کوم شرط نشته.

- د خپلې لېسې دورې په وروستي کال کې او د کالج یا روزنې پرمهال هر کال له FAFSA (Free Application for Federal Student Aid، د زده کوونکو د فدرالي مرستې لپاره وړیا غوښتنلیک) یا WASFA (Washington Apllication for State Financial Aid، د ایالتي مالي مرستې لپاره د Washington غوښتنلیک) سره د مالي مرستې غوښتنه وکړئ.
- هیڅ ډول جرمي محکومیت و نه لرئ.

## د 2024-25 د کورنۍ منځنۍ عاید

| د کورنۍ اندازه | کلنۍ عاید* |
|---|---|
| 1 | $40,500 |
| 2 | $53,000 |
| 3 | $65,500 |
| 4 | $78,500 |
| 5 | $91,000 |
| 6 | $103,500 |
| 7 | $105,500 |
| 8 | $108,000 |

* د کورنۍ عاید باید له دغه مقدار څخه کم یا ورسره مساوي وي.

## له فراغت وروسته، څنګه College Bound ترلاسه کولای شم؟

- د College Bound د ژمنې اړتیاوې او د ایالتي استوګنې اړتیاوې پوره کړئ.
- خپل د لیسې ډیپلوم ترلاسه کولو څخه وروسته په یو کال کې په کالج کې نوم لیکنه وکړئ.
- په خپل کالج کې په ښو درجو کې پاتې شئ.
- تر هغه چې په کالج کې یې هر کال مالي مرستې ته غوښتنلیک ورکړئ.
- د کورنۍ د منځني عاید په جدول کې د عاید اړتیاوې پوره کړئ. ستاسو کالج به وټاکي چې ایا تاسو د عاید اړتیاوې پوره کوئ او که نه.

## College Bound له ما څخه څه غواړي؟

- ډاډه شئ چې College Bound ستاسو د اړیکې اوسني معلومات لري.
- د خپلې لېسې له مشاور سره وګورئ څو ډاډه کړئ چې د اړیتاوو پوره کولو پر لاره یئ.
- په wsac.wa.gov/sfa-institutions پته د College Bound په وېب پاڼه کې د وړ ښوونځیو لسټ په کتلو سره د خپل کالج لټون لپاره چمتو شئ.

## مرستې ته اړتیا لرئ؟ Otter ته لیکلی پیغام واستوئ!



OtterBot د متني پیغام استولو خدمت دی چې د عالي لېسې له ټولو زده کوونکو او د هغوی له والدینو/سرپرستانو سره مرسته کوي. په College Bound کې د شاملو زده کوونکو لپاره ډیزاین شوی.

د نوم لیکنې لپاره دا QR کوډ سکن کړئ یا خپل د اړیکې معلومات تازه کړئ څو موږ وکولای شو له تاسو سره په اړیکه کې پاتې شو!
دا یوازې یوه دقیقه وخت نیسي!

> College Bound یو ایالتي تمویل شوی پروګرام دی چې د Washington Student Achievement Council له خوا اداره کېږي.

### له موږ سره اړیکه ونیسئ

collegebound.wa.gov

collegebound@wsac.wa.gov

888.535.0747 (1 غوراوی)

WASHINGTON STUDENT ACHIEVEMENT COUNCIL
EDUCATION · OPPORTUNITY · RESULTS